# د سیمه ییز اتصال لپاره د جیوایکونومیک او جیوپولتیک د بدلون او بهبود اړتیا

**آیا له پاکستان سره د سیاسي اړیکو په غیاب کې اقتصادي اړیکې ټینګېدای شي؟**
**دوست پاکستان تر سیال پاکستان غوره دی، خو څنګه؟؟**


**محمدآصف ننګ**
د اقتصاد خپرندوی مشر


له پکتیکا ولایت څخه، ۱۲ دلو ۱۴۰۲

**د لیکنې هدف:**
دغه لیکنه د مثبت فکر، اتحاد او د دواړو هېوادونو، بلکې د سیمه ییز اتصال د ممکن کیدو په نیت پنځول شوې ده، زمونږ او پاکستان ترمینځ آن ددې هېواد له تاسیس راپدېخوا غالباً د تصادم، معاندې او عدم تسامح سیاست پر مخ راغلی چې نتیجه یې وروسته له اوو لسیزو جوته ده چې د کرکې او ټکري سیاست څخه مو یوائې مرګونه، تخریب او پشاتګ حاصل کړی، د همدې حاصل عمده نتیجه دا ده چې د څو لسیزو لپاره د لویو نړیوالو او سیمه ییزه لوبو په میدان تبدیل شوی یو، دلته پرنګې لوبې او شیطاني سیاستونه پدې دلیل پلې کیږې ځکه چې مونږ د اسلامي امت په عنوان او هم د لوی افغان قوم په حیثیت او د ګڼ فرهنګه مشترکاتو با وجود یو له بل سره په ټکر کې یو، پر یوبل خولې لګو، پر یوبل ترحم نه کوو او هر شر او هر شرارت دلته د یوبل د ځپلو او تضعیف لپاره رابولو....غواړم دلته پر هغو متبادلو ګټو او فرصتونو ټینګار وکړم چې که د دواړو هېوادونو ترمینځ پکار ولوېږي مونږ به ګټور او زمونږ جیوایکونومیک او جیوپولتیک به په مثبت لور متحول کړې او د سیمې ناامني به په ثبات او بې قراري به په استحکام تبدیله کړي.
په سیاسي جغرافیا کې پاکستان یو نوی مولود دی، زه شخصاً پر پاکستان له شدیدو منتقیدینو څخه یم، اما باوري یم چې د دواړو هېوادونو ترمینځ به بهبود راځي، که د جنرال ایوب خان کنفدریشن ونشي نو څواړخیزه منفعتونه به مو ترمینځ جوړیږي، که د ښه نیت پر بنسټ ونشي نو د زمان او شرایط جبر به مو دغسې مراودو ته رسوي، د جغرافیا او زمان جبر دا هم ده چې تر قیامت پورې به همدا هېواد زمونږ ګاونډ وی، لکه له نورو ګاونډیانو سره چې مشترکات لرو لدې هېواد سره مو مشترکات متعدد او نه بیلیدونکي دي، ځکه نو زمونږ دغه تنقیدي سپړنه محض د تنقید لپاره نه بلکې د اصلاح لپاره ده، د پاکستان په هکله پدې لیکنه کې له منفي کرونولوژیک بیان څخه مو هدف اصلاح دی.




د ډېرو هغو هېوادونو په څېر چې له دویم نړیوال جنګ او د بریتن ودز تر معاهدې وروسته د نړۍ پر نقشه یې ظهور وکړ او د استعماري تقسیماتو او ترکاتو (بقایاوو) په پایله کې وزیږدل یو هم پاکستان و چې د انګریزي استعمار لخوا د

هند له لویې وچې (بر اعظم) څخه را جلا شو، په کال ۱۹۷۱ کې د یوه خونړي جنګ په پای کې پاکستان دوه ټوټې شو، شرقي پاکستان یا اوسنی بنګال (بنګلادیش) ترینه په داسې حال کې جلا شو چې د پنجابي پاکستان اتیا زره لښکر پکې اسیر او زیاتره یې تارومار شو.




د دغه هېواد د بدو سیاستونو تسلسل نه یوازې له افغانستان سره بلکې له هند او بنګلادیش سره تر کلونو کلونو لاهم جریان لري، که څه هم بنګلادیش تر خپل ظهور وروسته د (عدم تصادم) No Conflicts سیاست له مخې په ملي کچه یو لومړېتوب وټاکه چې له هیڅ هېواد سره به په هیڅ یوه بهانه تصادم او ټکر نکوي، د همدې سیاست له مخې یې له پاکستان او هند سره د تصادم په ځای د شراکت او تساند سیاست غوره کړی چې کامیابه پایلې یې ورکړې...د تاریخ سپړنه یو داسې واجب دی چې که ورته ځیر نه شو او عبرت ترې وانخلو هیڅکله اصلاحي مزل او د بهبود طرف ته نشو تللی، پدې لیکنه کې به د پاکستان او افغانستان یو داسې تریخ ماضي ته مرور وکړم چې تر نن پوري زمونږ په نسبت بې حده تاواني تمام شوی، که داسې ونکړو هغه د مثبت پیوند او د متبادلو ګټو د ایجاد آرمان ته نشو رسیدلی، د تصادم او ټکر د بندولو او ختمولو لپاره د تصادم او ټکر بې طرفه تحلیل مهم او د مقابل طرف په میز یې کېښودل ضروري دی.

بنګلادېش د همدې عدم تصادم د لومړیتوب له مخې ټولې قومي، ارضي، حدودي او جغرافیایي کشمکشونه یوې خواته کړي او د اقتصادي او تجارتي پراختیا پر بنسټ یې هم له ګاونډیانو او هم له نړۍ سره د (غیر منازعوي هېواد) په عنوان ډېر ښه تعامل چلولی.
عین سیاست بیا هندوستان له خپلو نورو ګاونډیانو، چین، بوټان، نیپال، بنګال، برما، چین، کشمیر او پاکستان سره تعقیب کړی، دا هېواد د ۷۲ ملت او ۷۲ مذهبونو ترڅنګ، چې ډېرې جګړې او کړکیچونه یې ترمینځ تیر شوي، اما تر خپل استقلال وروسته (۱۹۴۷) یې وکولی شو هم په کور د ننه او هم په منطقوي او نړیواله کچه له شخړو ډډه کړې او تر ډېره حده یې د عدم انسلاک یا مشترک المنافع د سیاست په درلودو سره ځان په لویو شخړو کې ندی شریک کړی. پرته له پاکستان چې په غالبه توګه له ګونډیانو سره پرخاشګري کوي مګر هندوستان کوشش کړی چې د شخړو د دوام په ځای د شخړو د حل برخه پاته شي، ځکه خو دا هېواد، پرته له پاکستان، بل چاته سیال او غلیم هم ندی او داسې سیاست ساتل لوی جګر، پراخه سینه او له تعقل ډکه ککرۍ غواړي...په تیرو پنځه اویا کلونو کې هندوستان وتوانید، د شوروي اتحاد او غربي نړۍ په ټکر او جګړو کې تر ډېره حده خپله بې طرفي حفظ کړي.
زه چې د دې هېواد خارجي سیاست او داخلي مساندت ګورم واقعاً لوړ او عبرتناکه درسونه ترېنه د افغانستان لپاره اخیستلی شو، خو کاشکي دولتونو زمونږ د تحقیق مراکزو ته د لازیات فعالیت زمینه مساعده کړې وای.

**دواړو هېوادونو ته لومړنی اساسي لومړیتوب: سیمه ییزه اتصال او اقتصادي همپالنه**

افغانستان د منځنۍ آسیا، شرقي آسیا او جنوبي آسیا ترمینځ د وصل اصلي دهلیز دی، د مرکز آسیا عمده هېوادونه (قرغیزستان، تاجکستان، اوبیکستان، ترکمنستان او قزاقستان) د عمان آزاد سمندرګي او د هند بحر ته د کراچې او ګوادر له لارې او همدارنګه هندوستان ته د افغانستان پر مسیر واګه ته د تړل کیدو او پیوستون لاري څاري، دغه هېوادونه تر هغو پورې خپلو غټو اقتصادي آرمانونو ته نشي رسیدلی، تر څو چې د روسې له تسلط آزاد نشي او له دغه ارزانه، آسانه او غوره بدیل څخه مستفید نشي.




بلخوا چین د (لار او کمربند) د ۶۵ میلیارد ډالري پروژې د تکمیل په هڅه کې دی، په لوی پلان کې افغانستان هم ددې کمربند برخه ده، په کال ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲ کې په مکرر ډول پاکستان او چین پدې کار وکړ چې څنګه افغانستان ددې لارې برخه شي، چې خوشبختانه د اسلامي امارت له خوا د شمولیت ژمنه په تکرار سره یاده شوې ده.
که څه هم په کال ۲۰۲۳ کې څو ځلې د چیني ورځپاڼو تحلیل دا و چې چین د واخان له لارې پر افغانستان او ایران یو نوی بدیل او متمم ترانزیت ایجادوي او د چاه بهار او بندر عباس له بنادرو ځان عربي خلیج ته ورسوي، طبعاً دغه مسیر پخپله هم مسیر دی او هم مارکیټ...متاسفانه په افغانستان کې د حالاتو احتمالي تزلزل، د قانونمنده متعارف دولت نشتون، نړیوال بندیزونه او تحریمونه، سیمه ییزه سیالۍ او کشمکشونه او...ددې باعث شوې چې پر دغه مسیر کم کار وشي.
معلومه دي وی چې ځمکنې لارې تر سمندري لارو ډېر ارزښت لري، د سمندري لارو په مسیر کې خلک ندي میشت، پدې مسیرونو شاپنګ یا سوداګري نشي کیدای، اما پر ځمکنیو لارو انسانان میشت دي، ولسونه دي، بازارونه دي او په سلګونو زرو کاري بوختیاوی دي چې تګ راتګ پرې له ګټې او برکتونو ډکې دي، ځمکنې لارې تر هوایي او بحري

لارو په مراتب ارزانه، په مراتب ګټورې او په اقتصادي دوران کې یې وزن په کراتو لوړ او ارزښمن دی، له چین سره د امریکا سیالي په جنوبي آسیا کې تر ټولو زیاته د چین د لار او کمربند د پروژې پر سر دی، امریکا پدې پوهیږي چې که چین د وربښمو دغه تاریخي لار احیا کړي چین به د نړۍ په اول درجه اقتصادي زبرځواک تبدیل شي، همدا وجه ده چې امریکا کوشش کوي په افغانستان، ایران او چین کې وضعیت کړکیچن کړې تر څو ددغه ملیاردي ګټو شاهراه عملي کیدو ته پرېښږدي.

یواځې چین نه دی چې لدې لارې ګټمن کیږي، لدې لارې پاکستان، افغانستان، ایران، منځنۍ آسیا، ترکیه او عربي خلیج هېوادونه هم په غټه پیمانه مستفید کیږي او د جیوپولټیک او جیواکونومیک نرخ یې کاملاً عروج کوي.

د سیمه ییز اتصال د نه عملي کیدو دلایل متعدد او پریمانه دي، اما هیڅ یو یې منطقي، ګټور او اصلاحي نه دی، خو برعکس د اتصال لپاره بیا فرصتونه فوق العاده پریمانه دي اما قصداً او د تاواني سیالیو په سبب پکار ندي اچول شوې، چې تر شا یې دلیل او منطق نشته، پرته له منفي تربګښنیو...!

اما که دغه دائره یا سرکل همدغسې دوام وکړې معنا به یې دا وي چې سیمه او بخصوص افغانستان او پاکستان قطعاً پرمختګ او ثبات ته نه رسیږي.




صلح و ثبات در منطقه بر تحقق صلح در افغانستان بستگی دارد و پاکستان مخلصانه به نقش خود در روند صلح افغانستان ادامه خواهد داد.

**مخدوم شاه محمود قریشی**

وزیر خارجه پاکستان

### (۱) د اقتصادمحورۍ په ځای د امنیت محوره سیاست دوام، د پاکستان د ۴۰ کلن رکود یو اصلي دلیل

پاکستان په تیرو پنځو لسیزو کې افغانستان ته محض امنیت محور دید لري، کله چې دا دید اقتصادمحور شي مطمین یم چې د دواړو هېوادونو ترمینځ به سیالي په همکارۍ تبدیله شي.

د پاکستان د ستراتیژیکه مطالعاتو له مخې، د پاکستان په ستراتیژیک ژورتابه یا عمق کې افغانستان د پنځمې صوبې اعتبار لري، پاکستان د همدې ستراتیژیک عمق Strategic depth له مخې په افغانستان کې د دریو لسیزو په بدو لوبو کې د مخکښ نقش لري، دا چې دا بحث ډیر ژور ابعاد او اوږد تحلیل لري زه یې په همدې اختصار اکتفا کوم، بل دا چې پدې لیکنه کې کوشش کوم له پاکستان سره د رغنده امکاناتو او فرصتونو په راسپړلو سره غواړم د اصلاح، سمون او د ګډو ګټو په موندلو سره مثبته نتیجه وړاندې کړم، کوشش کوم هغه مشوقات او فرصتونه رامخې ته کړم چې دواړو هېودونو ته امیدبښوونکي وي، نو ځکه له اصلي کیسو مرور کرام کوم!!

په تېرو ۴۰ کلونو کې د امریکا او شوروي د ساړه او ګرم جنګ په سبب او د ملیاردونو ډالرو په مصرفیدو کې پاکستان قطعاً د جنګي قراردادي وصف ورخپل کړ، بیا په تیرو شلو کلونو کې د ترهګرۍ تر عنوان جګړو کې یې بیاځلي د غرب او امریکا جنګي او استخباراتي قراردادونه ترلاسه کړل چې دغه ملیاردي کاروبار، د پاکستان اصلي او سپین اقتصاد د تور اقتصاد په سبب له نامرئي او تدریجي زوال سره مخامخ کړی ده، په تیرو څلورو لسیزو کې د جګړو تجارت war economy دومره ژورې اغیزې د پاکستان پر دولتي ساختارونو او سیاستونو اثر وغورځوه چې شاید جبران یې کلونه کلونه وخت ونیسي، که څه هم ددې ټولو تر شا د امریکا جګړه ییزه سیاست و مګر پاکستان د خپلو ملي منافعو په هکله د خپلې بېغورۍ قیمت ادا کوي.

## (۲) د امریکا او چین په سیالۍ کې د سیمې په ناآرامه کولو کې د پاکستان مرموزه دلګرمي!

د اسلامي امارت تر حاکمیت وروسته بیا هم پاکستان پدې هڅه ده چې د چین او امریکا له سیالیو، چېرته چې د امریکا د جنوبي آسیا په سیاست کې (هغه سیاست چې چین پکې د اصلي او ستراتیژیک خطر او اقتصادي ګواښ په عنوان معرفي شوی) پاکستان تلاش کوي چې ددوو قدرتونو پدې کشمکش کې عیناً د شوروي اتحاد او امریکا د ساړه جنګ تر ټولو زیاته ګټه د ځان لپاره کمایي کړي. پاکستان د طالبانو له حاکمیت وروسته جدي کوشش کوي چې افغانستان ناآمنه او بې ثباته کړي او پدې توګه د ټولې سیمې د ناآرامه کیدو کریډټ له امریکا ترلاسه کړي، البته د یادوني وړ ده چې د امریکا د جنوبي آسیا په سیاست کې د چین د ژیوایکونومیک او ژیوپولټیک کمزورتیا په هدف د سیمې ناآرامه کول مهم ابزار دي...


د پاکستاني استبلشمنټ په تحلیل، د امریکا او چین د سیالۍ سلسله دومره ژوره، اوږده او پراخه ده چې دوه درې لسیزې پکې سوکه اوړي نو د شوروي اتحاد د ساړه جنګ د دورې په شان پدې کړکیچ کې لوی کاروبار د دوی په برخه رسیږي. پاکستان باوري دی چې په ټوله سیمه کې غرب او غربي لوبو ته د وفادارۍ ثبوت پرته له دوی بل هیڅ هېواد ندی کمایی کړی...!!


خیر نور عمق ته نه ځم، امید لرم چې دا ځل به د افغانستان حاکمان له دې تاریخي دوست! سره له دقت او درایت کار واخلي، ددې ترڅنګ چې د امریکا د جنوبي آسیا په سیاست او ابعادو به ځان پوه کوي علاوتاً به د سیمه ییزه سیاستونو په غور څاري او پکې د سیمې د ژیوایکونومیک او ژیوپولټیک مطالعات به د ملي لومړیتوبونو په دایره کې به ردیف کوي!!

## تر مشارکت د مخه د پاکستان حاضره حالاتو ته یو ځلند نظر!!

د مفتاح اسمعیل (دشهبازشریف د موقته حکومت د مالیي وزیر) په قول، په پاکستان کې تر یوې لسیزې زیات د دورانی GDP نرخ څه د پاسه ۳۰۰ ملیارډ ډالره و، تر کال ۲۰۱۷ هرکال د نوی یا افزودي پانګوني (کورنۍ او بهرنۍ) میزان تر ۲ ملیارد ډالرو رسیدو، مګر دغه میزان (سره لدې چې عاصم منیر د پوځ مشر په لاهور پوهنتون کې (جنوري ۲۰۲۴) وویل چې په راروانو کلونو کې به په پاکستان کې د خارجي او داخلي پانګونې کچه ۱۰۰ ملیارد ډالرو ته ورسیږي!! چې ډیر له غلو او اغراق ډکه وړاندوینه ده) ځکه په ظرفیتي لحاظ په اعظمي حد کې او په مجموع کې د افزودي پانګوني ظرفیت، په یو کال کې، تر ۵ ملیارد ډالرو نشي رسیدلی، د جذب او استخدام ظرفیت یې نشته...همدا اوس چې ګورو د دغه هېواد د پیسو ملي زیرمه National Treasury Assets د۶ ملیاردو په حدودو کې ده، یعني د دوو هفتو د وارداتو له کچې یو څه کمه...دغه مخ پر نزول او تنزیلي حالت نه دا چې د سرمایې د جذب لپاره مشوق نده، بلکې جبران او په همدې کچه ساتنه یې ملیاردونو ډالرو او ډیر قوی شدید ریاضت ته اړتیا لري، نو که واقعبینانه تحلیل وکړو داسې مبالغه آمیزه پیشګویۍ هیڅ معقولیت نلري...!

له ۲۰۲۰ کال راهیسي د پاکستان اقتصاد شدیداً د رکود (نزول) په حال ده، دغه هېواد شدیداً د سون د انرژۍ (نفت او ګاز او برق) له پلوه قحطۍ سره مخامخ دی، هر کال د ۱۱۰۰۰ میګاواټ برق کمښت، او هرکال تر ٪۴۵ پورې د ګاز له قلت سره مواجه دی، هکذا د نفتو لوړه بیه سبب شوې چې دغه هېواد د هلاکت پر کرخه ودریږي، ځکه نو



احتمال شته چې پاکستان د خپل وړي ولس، په زرګونو بندوکارخانو او مفلسو کاروباريانو تر فشار خپل دريځ د افغانستان په هکله له امنيت محورۍ غالباً اقتصادمحورۍ ته واړوي او بله هيڅ داسې بهتره انتخاب ورته ندی پاتې.
په ۲۰۲۲ کې کړکیچ هغه وخت څوکې ته ورسيد چې د عمران خان انتخابي حکومت، ظاهراً د پارلمان په ويتو سره، راوپرزول شو، (يعني پر ديموکراسۍ کودتا وشوه)...
عمران خان يې د امريکا دسيسه او د پارلمان خيانت بولي...په همدې تشنجي دوره کې د کلدارو نرخ د ټولو خارجي اسعارو په وړاندې راوغورځيد، يو ډالر تر ۲۹۰ کلدارو، يوه افغانۍ تر ۳نيمو کلدارو ورسيده، د انفلاسيون نرخ ٪۳۰۰ اوچت شوی، د سون انرژي (برق او ګاز) بيه په بې ساري توګه لوړ شوه، يو ليتر تيل له ۱۹۰ کلدارو ۳۲۰ ته صعود وکړ، په همدې دوره کې د پاکستان د قرضونو کچه ۱۲۸ مليارد ډالرو ته وخته او IMF د ګڼو سختو شرطونو په وضع کولو سره لدې هېواد د پورونو اداېګي غوښتل چې پر حکومت د فشارونو په سبب د مسئلې د حل په موخه ګويا کارکشته د مالې چارو متخصص اسحاق ډار راوغوښتل شو تر څو کړکیچن مالي بحران هوار کړي..
په همدې ۲۰۲۲ کال د جون په مياشت، د شديدو سيلابونو په سببددې هېواد ۶نيم ميليون وګړې په لوږې مبتلا او ۳۳ ميليون وګړې (دنفوس ٪۱۵) يې له سيلابونو متضرر شول، ددې سيلابونو د مالی برآوردونو له مخې له ۱۵ تر ۲۰ مليارد ډالرو ته رسيږي. (د آناتولي آژانس راپور ۲۰۲۲ د سپتمبر۱۳مه).

په ۲۰۲۳ کې ددغه هېواد امنيتي او ټولنيز بحران دومره هر اړخيز او مضاعف شو چې د افغان مهاجرينو د جبري ايستلو ترڅنګ، د دوی د مالونو او املاکو تر چور کولو، بيا د افغانستان ۶۰۰۰ کانتينرونه په کراچې بندر کې ايسارول او د ميليونونو افغانيو ډمريج چارجولو په مقصد يې په مياشتو بندول ددې هېواد د خراب مالی وضعيت حکايت کوي.
په همدې کال (د سپتمبر ۲۰۲۳) کې د ټولو قوانينو او معاهداتو خلاف د افغان سوداګرۍ پر ۲۱۲ قلم ترانزيتي توکو يې بشپړ بنديز او د نومبر پر مياشت يې پر پاتي نورو عبوري توکو ۱۰ اضافي ماليه وضع کړه...د موقت صدراعظم انوارالحق کاکړ له دستور او د کورنيو چارو د سرپرست وزير سرفراز احمد بګټي له ويناوو سره سم به له هغو افغانانو چې پاکستاني هويتونه لري هويت به ترې اخيستل کيږي، املاک به يې ضبطيږي او بانکي او نقدي شمتمنۍ به يې دولتي کيږي...دا او ديته ورته مواقف ممکن د تاريخ برخه شي اما ددې ذهني او فکري اثرات کيدای شي هردم شمار په اذهانو کې پاته شي!!

## د پاکستان کورني کړکیچونو ته يو ځغلند نظر، ولې پاکستان داسې سختو دريځونو ته اړ شوی؟

د ۲۰۲۳تر ۲۰۲۴ کال اوضاع لاهم نده هواره شوې، ديته د عمران خان د بحران (د۲۰۲۳ کال د مې ۹مه) تبعات وايی، که څه هم د عمران خان نيول کيدلو ته سترې محکمې د يوه جايز اقدام په حيث اعتبار او تاييد وکړ، خو د ولس په ميليوني محکمه دا پريکړه او د خان نېول له قانون سره په مغايرت، ظالمانه، غيرعادلانه او سياسي توطئه يې بولي... بس همدا دوه تفاوتونه، دسرکاري او ولسي محکمې ترمېنځ په تصادم او تقابل منجر شوی، طبعاً د ولس مظاهرې له تشدد، غصې، تاوان او بې احتياطۍ سره ترسره کيږي، اما زمينه ورته پخپله حاکمې دستګاه ايجاد کړې! هغه رمز چې پخپله پاکستانيان پرې پوهيږي.

## نوي حالات او د طالبانو له حاکم کيدو سره د پاکستان بله نګون بختي!!

له سېمې د امريکا او متحدينو د وتلو او د اوکراين د جګړو اغېز خامخا شته خو له تېرو څه د پاسه دوه نيمو کلونو، له کوم وخت چې عمران خان نيازی ګوښه او بندي شوی، پاکستان په مسلسل ډول په سياسي او اقتصادي لحاظ راپرځي... لکه چې اشاره وشوه، د کرنسۍ تبادلوي ارزښت يې سخت رالوېدلی، په نړيوال تجارت کې يې بيلانس او اعتبار شديده صدمه ليدلې، تجارتي راتبه يې له ۱۶۷خخه ۱۹۹ ته راغورځيدلې د منسوجاتو اروپايي او بريتانوي مارکيټ ترينه بنګلادیش خپل کړی، د IMF د ټولو سختو او بدو شروطو با وجود يې مطلوب قرض ترلاسه نکړ... نتيجتاً که حالات کنترول نشي نو دوه انجامه يې مخې ته پراته دي: اقتصادي ورشکستګی يا ديفالت کيدل او سياسي انارشي!؟

## که د پاکستان ماتیدونکي شکننده حالات همداسې دوام وکړي عواقب به يې څه وي؟

- په امنیتي او سیاسي لحاظ به د نړۍ لخوا ددغه ټولې سېمې (پاکستان، ایران، افغانستان او...) اعتبار په یوې ناآمنه او خطري سېمې تسلیم کړی شی، چې طبعاً ډېر بد عواقب، مزید تحریمونه او تر فضایي او استخباراتي نظارت لاندې به پاکستان او سیمه راوستل شي.
- د پاکستان ثبات او بې ثباتي عمیقاً پر افغانستان، منځنۍ آسیا، چین، ایران او ځینو عربي خلیجي هېوادونو اغېز لري...طبعاً له حالاتو سره تعامل او له اغېزو يې د خوندیتوب په خاطر د ټولو مجاورو دولتونو د مدیریت او امنیت مصرف لوړیږي، دوی ته اضافي بوختیاوې (د اوکراین او خلیج د جګړو ترڅنګ) ور د غاړې کیږي، هغه څه چې نړیوال قدرتونه يې طمعه کوي او پدې توګه مزیداً یوې جنګي جغرافیا ته ورتېل وهل کیږي
- اما دا تحلیل هم شته چې، پاکستان به د خپلو لومړیتوبونو په بدلولو سره (له ستراتیژیک امنیتي ژورتابه اقتصادمحورۍ ته) وکولی شي روان کړکیچونه، چلنجونه او تضادونه نسبتاً قابو کړي، دوی لاهم ډېر هغه ابزار، وسایل او توان لري چې دا ګډوډ حالات تر کنترول لاندې راولي...په خوشبینانه تحلیل کې به پاکستان د خپل هیواد په کنترول برلاسی شي، اما له خپل ملک د باندې به يې د سیاست کولو، مداخلو او د منفي او نیابتي نقش د ایفا کولو قوت ډېر کم شوی وی، اعظمي تلاش به يې دا وي چې له حالاتو يې رقیبان منفعت اوچت نکړي! اعظمي تلاش به يې دا هم وي چې د افغانستان په باتلاق کې خپل ثبات وساتي، کوشش به وکړي چې په افغانستان کې ورته شرایط سازنده او سالم پاتې شي او... خو که يې پدې دلدل کې بیا قماري لوبو ته زړه ښه کړ، خدای مکړه عواقب به يې د سېمې او په اول قدم کې د پاکستان لپاره سخت لوړ او سخت تاواني تمام شي..
- د افغانستان مشرتابه دې د حالاتو روزمره جاج اخلي، د هر احتمالي سناریو لپاره باید آماده ګي ولري، تدبیر او چمتوالی دې خامخا ورته ولري، دا تدابیر له همدې ساعت باید تر کار لاندې وي، حالات په کرزماتیکه توګه سرنوشت ټاکونکي لور ته روان دي...
- افغان پانګوال دې هم د خپلو تجارتي مالونو د ترانزیتي مسیر لپاره او هم دې د کلدارو ذخیره کوونکي (په پاکستان کې میشت افغانان دې) د خپلو نقدو کلدارو په هکله ځان د حالاتو له جزئیاتو خبروي هسې نه چې د ناخبرۍ په سبب د حالاتو له عواقبو غافل پاته شي ځکه چې خوبوړې تل اوبو وړې دي هسې نه چې زمونږ تحلیل په داسې حال کې د دوی ترمطالعې ورسیږي چې د پاکستان لخوا د مهاجرینو د اجباري ایستلو دویمه او دریمه سلسله تر نسبي آرامش وروسته په راروانو کلونو کې بیا شروع شوې وي او دوی به بیا بیا د خپل غفلت قیمت ورکړی وي!!

## په (جګړه ییزې جغرافیا) کې د پاکستان نقش، او دواړو هېوادونو ته يې زیان!!

په تېرو پنځو لسیزو کې د پاکستان او افغانستان ترمینځ د څو عمده مقاصدو په خاطر فضا متشنجه پاتې شوې او دوام يې کړی:

- د یو بل د سیاسي شخړو د پراخولو په مقصد د سېمې د ګاونډیو هېوادونو (او د لویو قدرتونو) بسیجول او د هغوی د ملاتړ له لارې خپله داعیه برجسته کول، مثلاً د دیورند او پشتونستان په مسئله کې،
- په سنتو او سیتو کې د پاکستان تحریک برانګیزه شمولیت، چې د رقابت معادله يې د دواړو هېوادونو ترمینځ نامتوازنه او افغانستان يې اړ کړ چې ځان شوروي اتحاد ته نژدې کړي...
- د افغانستان لخوا د پاکستان د اتومي کیدو په وړاندې د سیمه ییزه مخالفي اجماع رامنځته کول...
- د افغانستان د اقتصادي لویو پروژو د تمویل په اړه د آسانه پورونو او مساعدتي مرستو ترلاسه کول، د پوځ او پولیسو د مسلکي روزنې او تقویې لپاره شوروي اتحاد ته مراجعه...(په ۱۹۵۰ مو کلونو کې مرحوم داودخان ددې کار لپاره امریکا ته مراجعه وکړه اما کله چې مایوس شو او امریکا ورته د رد ځواب ورکړ نو مجبوراً روسی ته يې مخه کړه...)

- او په مجموع کې د ملي امنیت، ثبات د منافعو او د لویو قدرتونو په ساړه جنګ کې د هغو له خطر د ژغورنې او ترڅنګ یې لدوی څخه د ګټو د کماېی کولو سیاست هغه څه و چې افغانستان او پاکستان یې د لویو قدرتونو په لومه کې وغورځول...په خاصه توګه د جنوب ختیزي آسیا معاهده یا SEATO چې په کال ۱۹۵۳ کې او د مرکزي سازمان د ژمنتیا معاهده یا CENTO چې په کال ۱۹۵۴ کې د پاکستان په غړیتوب لاسلیک شوه، افغانستان یې دیته مجبور کړ چې د دفاعي او اقتصادي مصالحو په خاطر له شوروي سره ملګرتیا زیاته کړي، د پاکستان همدا تحریک برانګېزه فعالیتونو د ټولې سیمې ددولتونو استقلالیت، بیطرفۍ Impartiality او هم یې د سیمې د عدم انسلاک یا مشترک المنافع Commonwealth غورځنګ ته زیات واړوه.

د دواړو هېوادونو شباهتونه دا دي چې د دولتي ظرفیت State Capacity د لوړولو په ځای او د ضرري سیالیو په ځای یې د لویو قدرتونو انسلاک غوره کړ...پرته د شاه محمودخان له دورې چې د شوروي د دوستۍ په هکله بدبین و، په نورو دورو کې د پورته ذکر شویو مصالحو لپاره افغانستان د شوروي اتحاد او پاکستان د امریکا او غربي بلاک ملګرتیا ته ترجیح ورکړه. دا هغه سیاسي مسیر و چې د دواړو هېوادو ملي وقار د لویدو ترڅنګ یې د ملي ظرفیت (ځان بسیاینې)، همکارۍ، مشارکت او غښتلتیا مخه یې کلونه کلونه ونیوله.

په ۱۹۵۰ کلونو کې شوروي اتحاد د منځنۍ آسیا د هېوادونو په څېر (چې هغه وخت د شوروي اتحاد تر قیومیت لاندې ول) غوښتل افغانستان هم له خپلې سیطرې او مجاوراتو سره وصل کړي، په همدې خاطر یې افغان لوري ته د مشوقاتو ګڼې پنډې وړاندې کړې، له ګمرکي مالیاتو د افغاني مالونو معافیت (د۱۹۵۰ کال د څلور کلن قرارداد له مخې افغانستان ته دغسې امتیازات ورکول یوه لویه اړتیا وه)...
بیا په راوروسته کلونو کې د نورو قراردادونو ترسره کول لکه د شمال لویه لاره، د حیرتان د دوستۍ پل، د شیرخان بندر، آقینه بندر، تورغونډې بندر د جوړولو ترڅنګ له ترکمنستان تر کندهار د لوېی لارې پخول، د سالنګونو لار، د شبرغان د نفت او ګازو استخراج، د مزار د کیمیاوی کود فابریکه، د ځینو نساجي فابریکو، د مکروریانو جوړول، د خانه سازي فابریکه جوړول، د بادام باغ پروژه، په ننګرهار کې د زیتونو فارمونه تاسیسول، د کابل او مزار د اتومیخانیکي انستیتوتونو او...ځینو نورو پوروژو په رغوني او تجهیزولو کې یې مرسته وکړه د شمال- کابل او تورغونډۍ-هرات لارو رغول په خپل وخت کې د شورویانو د یرغل لپاره مساعده مسیرونه واقع شول... شوروي ته په افغانستان کې د تحت الحمایه نظام موجودیت د امریکایي پراختیا په وړاندې مهم و، ځکه یې د ظاهرشاه، داودخان او نجیب الله تر دوران خپل سیاسي او نظامي ملاتړ ته توجیه ورکوله...
بلخوا پاکستان د امریکا او غربي بلاک د مزید حمایت د ترلاسه کولو په موخه هڅه کوله چې اوضاع لازیاته متشنجه شي تر څو په غټه پېمانه د امریکا له مالیې مرستو (دجګړو له اقتصاد) برخمن شي او د بی بدیله همکار په حیث خپل دغه موقعیت حفظ کړي، پاکستان پدې بریالی شو چې د افغانستان د ننه د اسلام د نجات او کفري یرغل په وړاندې افغاني بغاوت په خپل کنترول کې وساتي او کلونه کلونه خپل تخریبي نقش د همدې فداکاره ساده! افغانانو په واسطه پر مخې یوسي.

د لویو قدرتونو په دې سیالیو او کړکیچ کې نه تنها افغانستان او پاکستان بلکې د نړۍ ګڼ هېوادونه داسې استعمال شول چې د پسمانده ګۍ ترڅنګ یې هېوادونه د نیمې پېړۍ لپاره د جنګي جغرافیا او د جنګي اقتصاد War Economy په لومه کې وغورځول...متاسفانه دا لوبه لاهم هماغسې روانه ده، لاهم پاکستان په تېرو شلو کلونو کې (د امریکا جګړه له خپل کور بچ کړه او افغانستان ته راوسته) او په تیرو شلو کلونو کې یې د تروریزم په وړاندې د مبارزې تر عنوان، له امریکا څخه په ملیاردونو ډالر کمایي کړل، پوره شل کاله یې د امریکا او ناټو ځواکونو ته له همدې لارې سپلایي او لوژیستیک ورساوه، استخباراتي او هوایي اډې یې ورکړې او...
د طالبانو تر حاکمیت وروسته د پاکستان پوځ لاهم پدې هڅه ده چې چیني ایغوریانو او د منځنۍ آسیا د مقاومتیانو په تحریک سره د افغانستان جغرافیا په جنګي جغرافیا تبدیله کړې او پدې توګه د چین امریکا او روس امریکا له

رقابتونو د ځان لپاره نوی نوی جنګي او استخباراتي قراردادنه په لاس راوړي، دوی باور لري چې دغه دوه لویې سیالۍ به شل کاله نور د پاکستان خارجي ملاتړ او تمویل تامین کړي او پدې جنګ کې به دوی مستفید او افغانستان به د تل په څېر د جنګي محاظ په حیث وکاروي...!

اما که د بدو لوبو نتیجې ته وګورو، دغو مسلسلو نیابتي جګړو د لویو قدرتونو پدې بدې لوبې (د ضرر رسولو په تیر شل کلن دور کې) که له یوې خوا پوځي کړیو ګټه ترلاسه کړې خو له بل پلو په همدې دوو لسیزو کې د پاکستان ۸۳۰۰۰ وګړي مړه او ټردې څو چنده نور ژوبل شوې دي، د پاکستاني منابعو (The Explainerx، د جنوري ۲۰۲۴کال د تحلیل له مخې) پاکستان په تیرو ۲۴ کلونو کې د امریکا په نظامي ملګرتیا کې ۳۵ تریلیون کلداري زیان خپل ملکي سکتور (اقتصادي، تجارتي، صنعتي، زراعتي او کاروباري یا خدماتي سکتور) ته رسولی...




**د طالبانو له راتګ وروسته د پاکستان له لوري د یو اړخیزه ناکام او بې ګټې دریځونو ناکامه سیاست دوام او نتیجه یې**

د روان ۱۴۰۲ کال د میزان په میاشت کې د پاکستان د ګمرک ادارې، د ټولو نړیوالو میثاقونو، قوانینو او له افغانستان سره د شویو معاهداتو په خلاف، د افغانستان پر ۲۱۲ قلم ترانزیټي توکو ممنوعیت ولګاوه، هکذا یې د افغانستان پر ترانزیټي عبوري مالونو ٪۱۰ اضافي مالیه وضع کړه.

په دغو ۲۱۲ قلم مالونو کې، مصرفي توکي، صنعتي او تجارتي توکي، لکه ټایرونه، ټوکر، د آرایش سامان، زینتي سامان، کاشي، روغتیایي توکي، صنعتي ماشینري، د صنعت خام مواد او...شامل دي.

د پاکستان دولت د ۲۰۲۳کال په نومبر کې مدعي دی چې د افغانستان ترانزیټي مالونو په سبب ورته هرکال تر ۱۹۰ ملیارد روپۍ یا کلداري تاوان رسیږي.

اما که د تیرو لسو کلونو شالید ته ځیر شو، ګورو چې دغه هېواد د عسکري حکمرانانو د پالیسو په سبب له افغانستان سره د ۴ ملیارد ډالرو تجارت له لاسه ورکړی او آن کچه یې تر ۹۰۰ میلیون ډالرو په کال ۲۰۲۳ کې راښکته شوی، په همدې ترتیب د پاکستان د تجارت خارجي بلانس له منځنۍ آسیا سره د ۶-۸ ملیارد ډالرو په حد کې اټکل کیدو چې بدبختانه دغه میزان تر ۳۰۰ میلیون ندی لوړ شوی.

د پاکستان لپاره عمده ترینې پروژې، د ایکو او سارک په چوکاټ کې سیمه ییزه اتصال (د جنوبي آسیا او منځنۍ آسیا اتصال) ده چې د افغانستان له لارې ممکن کیدای شي او پرته لدې دهلیز بل هیڅ داسې لار نشته چې پاکستان پرې وصل شي او البته دا هغه آخري فرصت دی چې پاکستان له ګړنګ ژغورلی شي.

پاکستان د سون شدیده تنده لري چې د کاسا ۱۰۰۰ او ټاپي په پروژو سره يې د انرژۍ مشکل تر ډېره حده حل کیدای شي اما د ترانزیتونو لپاره مجبور دی د سیپک (لار او کمربند) شبکه د افغانستان په غږیتوب سره له چین سره وصل کړي او هم د منځنۍ آسیا، ایران خواف او واخان کوریدو په کړۍ کې ځان شامل کړي کنې د منطقوي رجحاناتو په سبب او هغه شدید میل چې د منځنۍ آسیا هېوادونه، ایران او چین يې د افغانستان د دهلیزونو له لاري لري یقیناً چې د پاکستان محرومیت او تاخیر به ددغه هېواد اقتصادي وده له شدید رکود سره مخامخ کړي.




ددې ترخنګ اما په پاکستان کې ٪۸۰ عام وګړې او سیاسي ګوندونه لدې سیاست سره مخالف دی، دوی باوري دي چې که پاکستان د جګړه ییزه رقابتونو او قراردادونو په ځای لدې بې ځایه سیالۍ (له هند او افغانستان سره) راووځي او ددې بدو انسلاکونو او د یو بل په وړاندې له بدو ائتلافونو سره د یوځای کیدو په ځای (چې پوځیان يې ګټمن خو پاکستان يې ۱۳۲-۱۲۸ ملیارد ډالر پوروړی) کړی باید هغه اقتصادمحورۍ غوره شوې وای، د احمدرشید له نظر همدا اوس خو یوه داسې دوره پر پاکستان راغلې چې د ګړنګ پر زۍ يې درولی، ددې لیکوال په باور په پاکستان کې یوه فاجعه دا ده چې نظامیان د ملکي حکومت او ټولو ملکي نهادونو واک په لاس کې اخیستی، لدې سره عسکري مصالح تر ملکي مصالحو لوړ ارزښت لري، چې د قدرت معادله داسې نه چلیږي...(پاکستان د ګړنګ پر غاړه، د احمد رشید کتاب) نو بهتره وه چې د ستیټ کپسټي (د ملي ظرفیت جوړونه او پر هغې اتکا) لوړه شوې وای او د جګړو اقتصاد په سپین اقتصاد تبدیل شوی وای، چې باید داسې و هم شي او روانه صفحه ژر تر ژره بدله کړای شي...

**د دواړو هېوادونو د اړیکو بهبود او د روانې سناریو د بدلون لومړیتوب!**

د امریکا د سولې انستیتوت USIP United States Institute of Peace د پاکستان او افغانستان د اړیکو د بهبود لپاره پر پنځو بنیادونو د ګډ کار فورموله وړاندې کړې:

1. *Sovereignty Threats د ملي حاکمیتونو په وړاندې د ګواښونو منتفي کول*
2. *Security benefits له امنیتي امیتازاتو یوبل برخمن کول، دواړه اړخونه باید د نه مداخلې اطمینان کاملاً په دوه اړخیزه توګه حاصل کړي، دا اطمینان چې ملي امنیت ته یې ګواښمن ندي*
3. *Geopolitical dynamics د پایداره جیوپولټیک په مقصد د سیاسي جغرافیا مثبت تحرک او خوزښت...*
4. *Foreign relations د بهرنیو اړیکو بهبود او په خارجي سیاست کې د دواړو هېوادونو ترمینځ د فعاله، خوشبینه او ګټورې ډیپلوماسۍ ایجاد او تداوم، بخصوص د مشترکې جغرافیا د ګواښ په وړاندې همغږي...*
5. *Mutual trade ګډ تجارت پراخول او د متبادلو ګټو د ایجاد په مقصد اقتصادي مشارکتونه ډېرول*

ددغو پنځو طرحو تفصیل ډېر زیات دی چې بهتره ده څېړونکي او علاقمندان یې اصلي منبع USIP ته مراجعه وکړې اما دا هغه جوهري وړاندېزونه دي چې زمونږ د دې بحث اصلي موخه تشکیلوي، زه یې په خپله ژبه نور اړخونه هم تشریح کوم.

لکه مخکې چې مو اشاره وکړه که د دواړو هېوادونو ترمینځ د سیالۍ او تصادم لوبه په همکارۍ بنا وای نن به دواړه هېوادونه د سیمه ییز اتصال او منطقوي تجارت په اعتباري اوزانو تبدیل شوی وای او د دنیا هر هېواد به ورته د تجارتي او اقتصادي شریک او ستراتیژیک ملګري په حیث اړتیا درلودای، مګر متاسفانه لا هم نړیوال رقابتونه باعث شوې چې دلته تخریبي ماموریتونه او لوبې وچلیږي او دواړه هېوادونه د خپلو جنګي او ټکري سیالیو په میدان (دچین او روسې په وړاندې) تبدیل کړي. لاهم د لویو قدرتونو د جنګي لوبو لپاره دواړه هېوادونه مساعد دي او خیز د تختې حیثیت لري، لاهم خونابه مرګوني پنډې Deadly Packages رالیږي او همدا سوداګانې زمونږ قابل بولي. اما اوس زمونږ وظیفه ده چې لدې کاروبار خپل هېوادونه راوباسو، مونږ له یوبل سره د هغو پنځو وړاندیزونو په هکله له یوبل سره جدي کار وکړو او خپل نیتونه مثبت کړو.

**د افغانستان له اړخه له پاکستان سره د مثبتو فرصتونو تشریح، د بحث اصلي محور!**

***اولاً، په کرونولوژیکه توګه د افغان اړخ پر یواړخیزه ښه نیت او زغم یو نظر:***

سره لدې چې د پاکستان تر تاسیس وروسته د دواړو هېوادنو لخوا د ناخوندورو سیاسي ادبیاتو او له نړېوالو او سیمه ییزه کړکیچنو، سیالمنو لوبو متاثره ډیپلوماتیکه هڅې غالباً له روزمره مسایلو متاثره، نه د ستراتیژیکه منافعوله مخې، چلیدلې چې قطعن یې مثبتې نیتجې له ځان سره نه درلودې، خو لدې سره سره زمونږ د هرې دورې په اساسي قوانینو (او هم له پاکستان سره د دوه اړخیزه تفاهماتو په سندونو) کې د ښه ګاونډېتوب اصل، د متبادلو رغنده اړیکو، د هیڅ هېواد په کورنیو چارو کې د نه مداخلې سیاست او د اقتصادي او تجارتي راکړې ورکړې د پراختیا پر مبنا افغانستان تل پاکستان ته د مثبتو فرصتونو ډېر وړاندیزونه مخته کړې، د اعلی حضرت ظاهرشاه او شهید داودخان په دریو اقتصادي پلانونو (دوه پنځه کلن او یو اوو کلن پلان) کې له پاکستان سره د اړیکو محور غالباً اقتصادمحوره شوی و، د ظاهرشاه لخوا د ترانزیتونو، کرنې او کانونو کې د مشارکت خواست په ټولو کې لومړۍ پاکستان بیا ایران ته شوی و، هکذا د شهید داودخان د صدارت او جمهوریت په دوران کې ګنو فرصتونو ته که مراجعه وشي، پدې ټولو کې د دواړه اړخیزه اقتصادي ودې مشترکه پروژې په نښه شوې دي چې عمده یې د زراعتي سکتور، معادنو، صنایعو، سرحدي مشترکه بازارونو، ترانزیت، د اورګاډې پټلۍ د پیلولو، د مالدارۍ ، صادراتو او وارداتو په برخه کې د پاکستان ګډون ته درخواستونه استول شوې دي...!

د سردارمحمدداودخان په وخت کې حتی د ایران، افغانستان او پاکستان ترمینځ د کنفدریشن پر طرحه هم کار شوی و، د پاکستان د هغه وخت سفیر، اسلم خټک (د جنرال ایوب خان په دور کې) او مرحوم قاسم رښتیا په خپلو یاددښتونو کې دغه طرحه د افغانستان د ښه نیت او آن د لوړ قیمت په ورکولو سره غوښتل عملي کړي...چې متاسفانه د لویو قدرتونو (شرق او غرب سیالیو) دغه پلان نیمګړی کړ.
د تیر جمهوریت په دوران کې شاغلي جمهور رییس حامد کرزي د خپل ریاست په دیارلس کلونو کې ۲۱ ځلې او جمهور رییس اشرف غني په اوو کلونو کې هغه تر ټولو ډیر خارجي سفرونه پاکستان ته وکړل.

ښاغلي کرزي د لس ډوله دیپلوماتیکه، امنیتي او اقتصادي میکانیزمونو په کارولو سره چې پکې:
مخامخ د خارجه وزارت په کچه، د دريې اړخیزه (افغانستان، امریکا او پاکستان) کمیسیون په چوکاټ کې، د دواړه اخیزه امن جرګې په قالب کې، ټاپي پروژې، د قلب آسیا، استانبول پروسې، سارک او ایکو او د مشترکه تجارتي ډلو په چوکاټ کې او د افغانستان، چین، امریکا او پاکستان د فارمټ په چوکاټ کې او دیته ورته ګڼ نور د عربی هېوادونو او ترکې په وساطت تلاشونه وکړل ترڅو له پاکستان سره کړکیچن روابط مثبت طرف ته ولاړ شي...
هکذا جمهور رئیس اشرف غني د ټولو مراوداتو او دیپلوماتیکه عرفونو خلاف آن د پاکستان د پوځ مرکز یا GHQ ته په ننواتي ورغی... د سیمه ییزه اتصال، دوه اړخیزه اقتصادي مشترکه دهلیز، د اوبو او سرحدي شخړو د نه برجسته کیدو طرحه، د اغزن سیم د غزیدو په هکله د مرموز او شدیداً تاواني اتفاق او سکوت تر حده او علاوتاً هماغه د کرزي د دورې ټول میکانیزمونو په تداوم سره وکارول اما نتیجه یې کاملاً برعکس وه...! متاسفانه په واضح توګه د پاکستان لخوا هیڅکله افغان لور ته د رغنده، عمراني او نتیجه بخشه دریځ سرنخ په لاس ورنغی...

د طالبانو تر بیا واکنۍ وروسته د اسلامي امارت په سیاست کې د ښه ګاونډیتوب اصل، د افغانستان له خاوري هیڅ‌اته د ضرر د نه رسولو سیاست، د اقتصادمحوره خارجي سیاست او لدې ټولو له پاکستان سره د ترجیحي اړیکو د قایمولو، تحکیم او تداوم دریځ (منجمله منځنۍ آسیا ته د امتیازي ترانزیت، په اپټا تړون کې د لازم تعدیل منل، د سکرو او نورو معادنو په قراردادونو کې دوی ته د مراعتي پنډو ورانديزونه، په کراچۍ کې د افغان سوادګرو په ۲۱۲ قلم توکو د بندیز په اړه سکوت، د مهاجرینو په اجباري خروج د تحمل Tolerance او برده باری سیاست غوره کول او...) خو تېرو دریو کلونو کې د پاکستان له اړخه ګڼ پرخاشګر اقدامات شوې...په کراچۍ جیلونو کې د افغانانو خویندو او کورنیو غیرقانوني ساتنه، یعني افغان لورې پدې ننګول، د مهاجرینو پر کورنیو او ممتلکاتو یو اړخیزه ظالمانه یرغل، د دوی اجباري او له کرامت لیرې ایستنه، پر افغان حریم ګڼ ځلي هوایی او ځمکنی یرغل، بی موجبه په بنادرو کې د افغان لورې پر سوادګریزه توکو بندیز، د تورخم او بولدک پر دروازو داسې بندیزونه چې هلته به بالفعل پر افغاني میوو لارۍ بار وې، برعلاوه د دوی د دیپلوماتیکه دستګاه او ګڼو سیاسي واکمنانو لخوا د نامناسبې مداخله ګرې ژبې او ادبیاتو کارول، د بی سنده اتهاماتو واردول او...



دلته موټی د خروار د نمونې په توګه ځینې مواردو ته اشاره وشوه طبعاً چې تریخ او بېخونده موارد بیخي زیات دي...غواړم ثابته کړم چې د افغانستان رسمي دریځ او مدونه سیاستونه او پالیسۍ له پاکستان سره د مثبت، رغنده او ترجیحاتو پر بنسټ استواره دي، داچې په خواله رسنیو کې د دواړو ملتونو ترمینځ خوابدۍ او د یوبل پر سیاستونو تنقید څومره پر دوستانه اړیکو سیوری غوړولی دا نو بېله کیسه ده، چې قطعاً د افغان لورې د رسمي دریځ استازیتوب نه کوي...!

***ثانیاً، د مشترکه موجوده او مستقبلي فرصتونو تشریح، او څو اقتصادمحوره وړاندیزونه!***

- ***په ګڼو برخو کې دوه اړخیزه او د مخامخ سوداګرۍ فرصتونه***
- ***پاکستان ته د افغانستان د ترانزیتي دهلیز مزایاوي***
- ***د سیمه ییزه اتصال پر محور د مشترکه فرصتونو ایجاد***
- ***د تاپي، کاسا ۱۰۰۰ او نورو پروژو په کامیابۍ کې اصلي مستفید پاکستان دی!***
- ***د لاړ او کمربند یا سیپک پر محور د ګډو ګټو د ایجاد یو با ثباته چانس***
- ***د افغانستان په منابعو کې د پاکستان لپاره د پانګونې ګټور امکانات***

### • په ګڼو برخو کې دوه اړخیزه او د مخامخ سوداګرۍ فرصتونه

یو وخت د آزادو قبایلي وګړو ترمینځ، د ګنډو د تجارت Smuggling کچه تر یو ملیارد ډالرو لوړه وه، دا یو نسبتاً تور او قاچاقي کاروبار بلل کیږي، دا کاروبار له ډېر پخوا آن هغه وخت چې هندي براعظم زموږ ګاونډ و، رواج درلود، په لسګونو زره کورنۍ لدې لارې معیشت درلود او لاهم مروج دی او ښه پریمانه پانګه پکې ښکته پورته کیږي...دېته ورته کاروبار د مکسیکو او امریکا په سرحدونو، د افریقایي هېوادونو ترمینځ، د ایران او پاکستان، د ایران او ترکیه او د ګڼو آسیايي او اروپايي هېوادونو ترمینځ موجود ده او خپل مزایا او تاوانونه هم لري اما دا کاروبار په یوه دودیزه تجارتي کلتور تبدیل شوی او د زرګونو کورنیو اقتصاد ورپورې تړلی...

د پاکستان له تاسیس وروسته د افغانستان او نوی پاکستان ترمینځ د پیل روابط ښه نه و، له کال ۱۹۴۷ تر ۱۹۵۸ (یعنې نهه کاله) د پاکستان له تاسیس وروسته پدې هېواد کې اساسي قانون او ګڼ نور قوانین موجود نه و، د اساسي قانون له تدوین او تصویب وروسته په اقتصادي برخه کې له افغانستان سره رسمي تجارتي او اقتصادي اړیکو رونق واخیست...د کراچۍ او واګه بندرونه افغانستان ته تر ټولو مهم بندرونه و، د افغان سوداګرو غالبه اتکا د ترانزیت په غرض او هم د پاکستان پریمانه زراعتي او مصنوعي توکو او تولیداتو ته د افغانانو اړتیا په لوړه درجه وه...




> پاکستان خواستار روابط تجاری بیشتر با افغانستان است. ما به تلاش برای همگرایی بیشتر متعهدیم و آماده‌ایم با هم برای موفقیت و شگوفایی منطقه کار کنیم.
>
> **محمد صالح احمد فاروقی**
>
> وزیر تجارت پاکستان

پاکستان د زراعت، مالدارۍ، فارمدارۍ، خوراکي صنایعو، منسوجاتو، غوښه، لبنیاتو، زراعتي ماشینرۍ، تکنولوژۍ، بانکدارۍ، مالي تفتیش او ګڼو نورو برخو کې له افغانستان سره تجارت لري، پدغو ساحاتو کې تر ۲۰ ملیارد ډالرو د پانګونې ګنجایش د پاکستان لپاره شته چې په ملیاردونو ډالر ګټې ګټه او د اسعارو سیلاب خپلې GDP ته اضافه کولی شي. برعلاوه په پاکستان د افغانانو څه د پاسه ۱۵ ملیارد ډالر پانګونه د دوستانه اړیکو او ګډو شراکتونو په پراختیا لازیاتیدای شي..!

### • پاکستان ته د افغانستان د ترانزیتي دهلیز مزایاوي

دواړه هېوادونه د سیمه ییز اتصال د مشترک ترانزیت برخي دي، هیڅ ممکن ندی چې پرته له شراکت دې دغه سیمه ییز ترانزیت او اتصال بشپړ شي. دواړه هېوادونه په ګډه کولی شي د منځنۍ آسیا او مرکزي آسیا ترمینځ یا په بل عبارت د شنګهای او ایکو سازمانونه د سارک له سازمان سره وصل کړي، هغه څه چې په تیرو شلو کلونو کې د آسیا زړه فارمټ تر څنګ، د سارک، ایکو، شانګهای، ریکا، استانبول پراسس او...ګڼو نورو مشترکو ناستو کې پرېي بحثونه او سلا شوي دي، مګر عملي جامه یې کله هم نده اغوستې!!

د منځنۍ آسیا لپاره، له ټاپي او کاسا ۱۰۰۰ څخه پرته، د ګوادر ، واګه او کراچۍ بندرونو ته رسیدنه هغه ستر فرصت دی چې یوائې په تجارتي او ترانزیټي مقصد هم پاکستان او افغانستان ته او هم همدغو هېوادونو ته د سلګونو میلیون ډالرو اضافي منافعو تامین مهیا کولی شي. دغه ترانزیټونه او تجارتي مارکیټونه پاکستان په بهتره او ستراتیژیک لحاظ لازیات غښتلی کولی شي، پدې توګه به پاکستان د ستراتیژیکه قدرت (د ترانزیټونو د حاکمیت) او د اقتصادي مسیرونو د مالکیت ترڅنګ په ملیاردونو ډالر د ترانزیت او خپلو تولیداتو ته د پراخ مارکیټ د موندنې په برکت کمایي کړي. دا چې د همکاریو په پراختیا او د سیمه ییزه اتصال لپاره د ترانزیټونو اغیز به د سیمې پر سیاسي او امنیتي ثبات څومره اغیزه غورځوي هم د اهمیت وړ ده، برعلاوه د هندوپاکستان ترمینځ او هم د سیمې د نورو هېوادونو ترمینځ د پردیو لوبو او د نیابتي جګړو فضا د اقتصادي همکاریو په فضا له بدلید سره به د سیمې د هېوادونو موجوه بودجې په تقلیل سره، کومې چې په امنیتي، استخباراتي او نیابتي ټکرونو مصرفیږي او په سیما او کمښت سره به یې څومره غټ او نوي اقتصادي فرصتونو او اقتصادي ودې ته تمویلي منابع پراخیږي دا نو ډیر لوی تحلیل غواړي..!

څکه نو د افغانستان پر دهلیزونو او ترانزیټونو د پاکستان ګټه، هغه که د منځنۍ آسیا او جنوبي آسیا په سطحه وی او که پخپله د مرکزي آسیا بازارونو ته د پاکستان وصلیدل وی، فوق العاده بې ساري ده...اساساً پر افغان دهلیزونو او ترانزیټونو وصلیدل د پاکستان ستراتیژیک اهمیت، د چین، هند او روسی لپاره هم لوړوي...!

- **د سیمه ییزه اتصال پر محور د مشترکه فرصتونو ایجاد**

په دنیا کې ګڼ اقتصادي سازمانونه، اتحادیې او د ګډو کاروبارونو معاهدات وجود لري، اروپایي اتحادیه (د۳۱ هېوادونو ترمینځ) یې عملي او برجسته نمونه ده، بیا د خلیج اتحاد (د شپږو عربي نفتي هېوادونو، سعودي، کویت، امارات، قطر، عمان او بحرین ترمینځ)، د افریقایي هېوادونو اتحاد، د لاتیني امریکا د هېوادونو اتحاد، همداسې د سارک، ایکو، آسیا زړه، ریکا، شانګهای او...

په وروستیو ذکر شویو کې افغانستان او پاکستان ګډ غړیتوبونه لري اما دواړه هېوادونه د جغرافیایي موقعیت له پلوه فوق العاده لوړ اهمیت او د سیمه ییزه اتصال په ایجاد او تکمیل کې یې بدیله نقش لري، د منځنۍ آسیا او جنوبي آسیا او هم د شرقي آسیا (چین) او غربي آسیا (ایران او عربی خلیج) ترمینځ د افغانستان جغرافیایي ارزښت بې بدیله ده، خو پرته له پاکستان د وربښمو د تاریخي لار کړی نه بشپړیږي، سیپک یا لار او کمربند هغه عظیمه پروژه ده چې د افغانستان په شاملیدو او د واخان په اتصال سره یې ارزښت څو چنده لوړیږي، یعني واخان د سیپک سیال نه بلکې تکمیلونکې برخه یې ده...

دریم ټکې دا چې د پاکستان او افغانستان له رغنده رول او همکاریو سره به مشترک المنافع مارکیټونه هم پراختیا مومې، منځنۍ آسیا، ایران، افغانستان، پاکستان او ګڼ نور هېوادونه د همدې سیمې او خاصتاً د چین لپاره تر ټولو لوی مصرفي او استهلاکي مارکیټونه دي، د نړۍ تر نیم زیات نفوس او تر نیمایې زیاتې طبیعي منابع او معادن په همدې پیراموني جغرافیا کې موقعیت لري...د وچې لارې او ترانزیټونه تر هوایي او بحري ترانزیټونو لوی مزیت او ارزښت لري، په هوا او سمندرونو کې بشري استوګنه نشته، مارکیټ او مصرف پکې نشته اما ځمکني لارې او ترانزیټونه له مبدا تر مقصد پوري له استوګنو، بشري ټېسنونو، مصرفي بازارونو او د مالونو د ذوبیدو له مراکزو ډک دي...ځکه خو وایو چې افغانستان او پاکستان د سیمه ییزه اتصال لپاره هم د جغرافیایي او ژیوپولتیک موقعیت له لحاظ او هم د ګڼو نورو ضمني ګټورو اقتصادي فرصتونو د ایجاد او زیاتولو یا د ژیوایکونومک ارزښتونو څخه برخمن هېوادونه دي چې له سیمه ییز اتصال هم ګټه کمایي کولی شي او هم بې شمېره ګټه سیمه ییزه شریکانو ته رسولې شي. طبعاً چې سیمه ییزه اتصال په خپل وار سره د سیمې د ټولو هېوادونو د ملي او سیاسي ثبات لپاره تر ټولو حیاتي ارزښت په برخه کوي او آن د سیمې د (جنګي جغرافیا Conflict zoon) وصف د (اقتصادي همکاریو Economics Cooperation) په جغرافیا بدلولی شي...!

- **د ټاپي، کاسا ۱۰۰۰ او نورو پروژو په کامیابۍ کې اصلي مستفید پاکستان دی!**

د کاسا ۱۰۰۰ او ټاپي پروژو په هکله په ځانګړو لیکنو کې په تفصیل غږیدلی یم، چې مینه وال یې کتلی شي، اما دلته یوائې دومره یادونه غواړم چې ټاپي او کاسا زر پروژې هغه دوه پیل شوې فرصتونه دي چې د پاکستان له بالفعله همکاره کیدو سره تکمیلیدلی شي، مخکې مې اشاره کړې وه چې پاکستان د سون انرژۍ (برق او ګاز) له اړخه له سخت کمښت او بحران سره مواجه دی، هکذا د پاکستان مخ په زیاتیدو نفوس او شدیداً زیاتیدونکې د صعنت لپاره د سون د موادو اړتیا، که پدې برخه کې مهیا نشي، نو ددې کمښت به خامخا باعث شي چې په هغه هېواد کې د سیاسي او اجتماعي بغاوتونو او صعب العلاجه اقتصادي ستونزو د ټکیدو او پراختیدو سبب شي.





د پاکستان د برېښنا ملي اداري NEPPA له راپور سره سم دغه هېواد هرکال د ۱۰-۱۲ زره میګاواټ برېښنا د واردولو اړتیا لري، همدارنګه هر کال یې د ګاز اړتیا په ډېر شدت سره زیاتیږي، اوسمهال تر ۴۰-۴۵٪ د سون ګاز له کمښت سره مخامخ دی پدې دواړو برخو کې کال په کال د مصرف کچه او د اړتیا میزان مخ په زیاتیدو ده، ځکه نو دا هېواد مجبور دی له موقع نه په استفادې ددې دواړو پروژو په کامیابولو او عملي کولو کې له خپلو لاسلیک شویو ژمنو او له پروژوي شریکانو سره د کړیو وعدو په عملي کیدو کې اقدام وکړي...!

- **د لار او کمربند یا سیپک پر محور د ګډو ګټو د ایجاد یو با ثباته چانس**

د چین لخوا د سینکیانګ ایالت نه پر قاشغر تر ګوادر او بالاخره د عمان سمندر ته د چین د اتصال دغه (تقریباً د ۲۵۰۰ کیلومترو لار) ته سیپک CPEC China-Pakistan Economic Corridor وایی، سیپک د سړک ترځنګ، د فایبر، برېښنا او نورو کالو، تجارتي مالونو او امکاناتو د انتقال یوه عظیمه ترانزیتي او اتصالي پروژه ده چې مالي بسپنه یې (د ۴۶ څخه تر ۶۵ ملیارد ډالرو) پوري، په شمول د چین د ضمني سرمایه ګذاریو، رسیږي.

مګر سیپک مفته مجاني پروژه نده، د دې پروژې او نورو همکاریو لپاره پاکستان له چین څخه تر کال ۲۰۲۲ پوري ۳۰ ملیارد ډالر پورورې شوی ده، ځکه نو که د سیپک له لارې دا پورنه ادا نشي او نوره مازاد ګټه پکې حاصله نشي نو سیپک به هم د پاکستان لپاره ناکامه پروژه وي خو چین ته به بامنفعته وي. نو د پاکستان لپاره لازم ده چې په سیپک کې د افغانستان په شریکولو سره دغه د لار او کمربند فایده منتوب لازیاته موثره او ګټوره کړي او هم د سیپک یا نوې ابریشم New Silk د ضمیموي لارو (حلقوي لارو) په اکمال کې جدي همکار اووسي.




لدې پروژې سره به د پاکستان او چین ترمینځ د ۱۲۰۰۰ کیلومترو مزل شاوخوا ۲۴۰۰ کم ته را لنډ او چین ته به د هرکال د دوو ملیارد ډالرو سپما وربه برخه کوي، بالمقابل به د پاکستان د خپلو صادراتو او وارداتو او بیخ بنایي پروژو پراختیا لپاره په سلګونو میلیون ډالر ګټه پورته کوي...

د چین دغه پروژه د اسلامي امارت د دلچسپۍ وړ ده، ځکه يې له کال ۲۰۲۱ راپدېخوا له چین سره پدې پروژې کې د وصل کیدو خواستونه کړې چې خوشبختانه د پاکستان دولت هم په وار وار د افغانستان د الحاق وړاندیزونه کړې او قبول شوي دي.
دیادوني وړ ده چې د واخان دهلیز هم د دې پروژې متمم او مکمل بلل کیږي او په هیڅ توګه د دې پروژې سیال ندی او نه هم د پاکستان په زیان ده، بلکې په واخان دهلیز کې د پاکستان او تاجکستان او هم د قرغیزستان سره د وصلیدو یوه اساسي موخه ده چې پاکستان يې له څو لسیزو آرزو لري.
له تجارتي او اقتصادي ګټو ورهاخوا دا یوه تاریخي بیارغاونه او احیا ده چې د ملتونو د وصل ترځنګ د ټولې سیمې له ثبات او پایداره امنیت لپاره فوق العاده مرسته کوي...
د آسیايي څېړنو له مخې د پروژې په وړاندې تر ټولو خطرناک او ضرري سیال او رقیب امریکا ده چې د دوی د جنوبي آسیا په سیاست کې ددې پروژې تکمیل او پراختیا د امریکا د ملي ګټو په زیان تعریف شوي دی...!

- **د افغانستان په منابعو کې د پاکستان لپاره د پانګوني ګټور امکانات**

افغانستان په وچه محاط او په ترانزیتي لحاظ، سره لدې چې نورې بدیلې لارې ایجاد شوې، خو بیاهم شدیداً پر پاکستان او د پاکستان پر بنادرو متکې هېواد دی.




***د افغانستان لپاره د بدیلونو له کشمکش د راوتو دوه درې انتخابه وجود لري:***

- د ابریشم یا وربښمو د تاریخي لارې، د وربښمو په الحاق نویو مسیرونو، چې د سپیک په چوکاټ کې پیل شوې او ادامه لري. دا لار مونږ له چین، منځنۍ آسیا او په یو بل نسبتاً طویل مسیر له هند سره وصلوي.
- د لاجورد مسیرونه، چې مونږ له ایران، ترکیه او اروپا سره په نسبتاً مصرفي واټن وصلوي
- د تورغونډۍ، حیراتان، شیرخان بندر، واخان، آقینه، اسلام قلعه چې د ایران له بندر عباس او چاه بهار او عربي خلیج او دنیا سره وصلوي (ایران ښه بدیل دی مګر تر تحریمونو لاندې دی، افغان سوداګر نشي کولی د ایران له لارې د مالونو TT یا نور بانکي ترانزیکشنونه ترسره کړې، علاوتاً د ایران دواړه بندرونه نسبت کراچۍ ته پرمصرفه او اوږده دي..)
- د ګوادر، قاسم پورټ یا کراچۍ بندر، واګه او...هغه مسیرونه چې مونږ د پاکستان له لارې له هند او دنیا سره وصلوي (دا هم بدیل ترانزیت دی، له مزاحمتونو، آزار او تکلیفونو ډک... خوبیا هم یوه داسې لار ده چې زمونږ تجارت او سوداګر پرې معتاد شوې دي او لدې اعتیاد خلاصون تقریباً ناممکن دی).

***اما اصلي او اساسي بدیل دا ده چې:***

- مونږ پر وارداتو اتکا راکمه کړو، د کراچۍ او نورو ګاونډیو هېوادونو بندرونه اوس وخت غالباً د وارداتو او په کمه کچه د صادراتو لپاره کارول کیږي، په یاد باید ولرو چې په کلي توګه له هیڅ یوه ترانزیت کاملاً استغنا ممکن نده، اما زما هدف د اتکا د کمیدو ده، نه د ختمیدو..!
- د زراعتي خودکفایۍ پلان: د یوه پراخ ملي او څو اړخیزه پلان له مخې د افغانستان زراعت مدرنه او میکانیزه کړو، د همدې ملي پلان پر بنسټ د زراعتي ځمکو د پراخ وېش پروسه، د ځانګړو اصولو او میکانیزمونو له مخې، پیل او عملي کړو، د غله دانه له بابته د خودکفایي ماستر پلان (پنځه کلن) باید ترتیب شي، اوبو او سیندونو د مدیریت پلان باید ترتیب شي او زراعتي صنایعو د ودې او پراختیا لپاره هم پلان او هم تمویلي بانکونه (د کرنې د پراختیا بانکونه) باید دوباره تاسیس شي او...تر څو پدې برخه کې د وارداتو کچه راښکته شي، طبعاً پدې پلانونو کې د پنبې او منسوجاتو وده، د نباتي غوړو د تولید، د مالدارۍ او لبنیاتو له اړخه خودکفایي او...شامل دي...
- باید پخپلو معدني او طبیعي منابعو کې د سیمې هېوادونه راشریک او له ګډو منفعتونو یې مستفید کړو، تر څو له یوې خوا مو د متبادلو ګټو شریکان په ستراتیژیکه شریکانو تبدیل شي، چې په هغه صورت کې طبعاً د مزاحمت او فشار سیاست په یو اړخیزه توګه نشي اعمال کیدای، او بلخوا به زمونږ په منابعو کې له پانګونې سره زمونږ بیروني توکو ته اړتیا راکمه شي او ورسره به ملي تولید انکشاف کړی وي.
- پر پردیو د ترانزیتي ستونزو او آمرانه فشارونو لپاره باید افغانسان په ځینو برخو کې کاملاً خودکفایۍ ته او صادراتو ته ورسیږي، مثلاً د برق د تولید لپاره د بالقوه، څه د پاسه د ۳۰۰ زره میګاواټ برق د تولید ظرفیت، باید په بالفعل ظرفیت تبدیل شي.

***په یو بل د اتکا د ایجادولو قاعده:***

تر څو چې په وچه محاط هېوادونو ترمینځ، د یو اړخیزه نیاز فورموله په متقابلې اړتیا Mutual Reliance او د یواړخیزه منافعو قاعده په دوه اړخیزو او څو اړخیزو منافعو Mutual interest+ Benefit تبدیله نشي، ددغسې هېوادونو ترمینځ کړکیچونه او نیابتي لوبې او ضمني ضررونه نه ختمیږي.

***ددې قاعدې له مخې، اولاً په پالیسیو کې بدلون:*** په ملي پالیسۍ کې مهمه دا ده چې افغانستان د اقتصادمحوره سیاست له مخې له ټولو ګاونډیانو، نړۍ او بخصوص له پاکستان او ایران سره تعامل وکړي...دواړه هېوادونه له افغانستان سره مشابهتونه لري، اقتصادي ضعفونه، د منابعو نه استخراج، له موډه لویدلې صنعتي ماشینري، مزمن او پراخ فقر، تحریمونه، کورني کشمکشونه، سیمه ییزه منازعې، تر یوه حده مرزي ستونزې، د اوبو پر سره خوابدۍ، سیاسي مداخلې او...ځکه نو یوائې او یوائې اقتصادمحوره دولتداري او د پورته قاعدې د ایجاد له مخې کولی شو د افغانستان مصایب راکم او د روابطو د بهبود شرایط ځانته پراخ کړو.

***ثانیاً، د وطن میداني واقعیتونه دا دي چې:*** افغانستان په مادي او مالي لحاظ نشي کولی خپلې طبیعي زیرمې، معادن او منرالونه په کامل استخدام او استخراج کې راولي، ددې لپاره د ملیاردونو ډالرو بودجې ته ضرورت ده چې د مشارکتونو او ونډه والانو له لارې (هغه که کورني ونډه وال وي یا سیمه ییزه یا نړېوال) دغه هدف ته رسیدلی شو، معنا دا چې مونږ منابع لرو خو استخراجي صنایع او د هغو لپاره سرمایه نلرو، سیمه ییزه شریکان مو سرمایه لري خو منابع نلري...

***ثالثاً، د قاعدې د شریکانو مجبوریتونه:*** مجبوریت او احتیاج د متقابلې اتکا او ایجاد اساس تشکیلوي، پاکستان د خام صنعتي او نیمه صنعتي موادو له پراخ کمښت سره مخامخ دی چې د افغانستان په ډېرو برخو کې خپلې اړتیاوې پوره کولی شي، ماسوا لدې د کرنې، مالدارۍ په سکتور کې د پاکستان غني تجربه کولی شي ګڼ اړخیزه مشارکتونه له

افغانانو سره ایجاد کړي...د سکرو ډېرې بل هغه اساسي منبع ده چې افغانستان تر ۹۰ معدني سیمې او په میلیونونو مټرک ټنه ذخایر یې لري، د سکرو ډېرو ته تر راتلونکو ګڼو کلونو د پاکستان اړتیا او هغه برېښنايي دستګاوي یا پلنټونه چې د چین په مرسته یې جوړ کړي، قطعاً د ټولو زیات د افغانستان په سکرو متکي دي...
د خدماتو په سکتور (روغتیا، تحصیلات، بانکداری، مواصلات او اتصالات، تکنولوژی) کې د پاکستان پانګوال له ډېر پخوا لیوال دي، همدارنګه د صنعت او د معادنو د استخراج او د استخراجي صنایعو او ماشینري په اکمال کې د پاکستان ماشینري یو لوی ظرفیت د مشارکت لپاره مهیا کولی شي.
افغانستان د طبیعي منابعو له لحاظ (د امریکا د جیولوژیکه سروې د اژانس په تخمین) څه د پاسه ۱۴۵۰ ډوله معادن او منرالونه لري چې مادي ارزښت یې له ۳ تر ۲۵ تریلیون ډالر تخمین کیږي.
د اوبو د منابعو له پلو یو غني هېواد دی چې د ګڼو بندونو او د برېښنا لپاره، جمعاً له بادي او لمریزي منبع، د څه د پاسه د ۳۴۰ زره میګاواټ برق د تولید ظرفیت لرو چې د سیمې د هېوادونو په شمول د پاکستان د برېښنا د کمښت ستونزه تر ډېره هوارولي شي، دا هغه بکر سکتور ده چې پاکستان پکې هم پراخه پانګونه کولی شي او هم ددایمي شریک په عنوان لدې سرشاره انرژۍ استفاده کولی شي.
د افغانستان د طبیعي زیرو او منابعو د ارزښت او کمیتونو په هکله مې تفصیلي لیکنه کړې، اساساً مې هدف دا و چې د پانګولو د جذب، د دولتي مشوقاتو د ایجاد او بالاخره د شریکانو د تشویق برخه یې برجسته کړم، چې له شریکانو مې ترجیح د افغانستان ګاونډیان دي...

**ددې لیکنې لپاره مراجع او ماخذ:**


- احمدرشید، پاکستان د ګړنګ پر غاړه، د فیض محمد ځلاند ژباړه
- د پاکستان د ستراتیژیکه مطالعاتو کلني راپورنه، د جنرال حمیدګل د مطالعاتو مرکز، ۲۰۰۹
- د شهید داودخان د دورې اقتصادي پلانونه، ۱۳۳۷-۱۳۵۹
- پرویز مشرف، پاکستان د اور په لېکه، ۱۳۹۰
- د امریکا د سولې انستیتوت USIP United States Institute of Peace، ۲۰۲۰
- سیمه ییزه همپالنه، آقامحمد قریشي، ۱۴۰۱
- دوکتور شیدا محمد ابدالی، افغانستان، پاکستان، هندوستان یک تغییر بنیادی، ۱۳۹۷۷
- طالبان: زنان، تجارت مافیا و پروژه عظیم نفت در آسیای مرکزی، احمد رشید
- د افغانستان او پاکستان د تجارت او صنایع مشترکه اطاقونه، ۲۰۱۹
- د پاکستان د ګمرک اداره، ربعواره راپورونه، ۲۰۱۷-۲۰۲۳
- د امریکا غږ او بی بی سی ځینې متفرقه راپورونه